
# تاسې کوم شکل یاست؟

| | |
|---|---|
| **کچه** | ابتدايي (د عمر ګروپ: ۴ – ۵ کاله) |
| **اړین توکي** | د شکلونو کارتونه |
| **د توکو لپاره بدیل انتخابونه** | په لاندې طریقو سره ۶ دانې د شکلونو کارتونه جوړ کړئ چې مثلث، مربع، ستوری، مستطیل، دایره، زړه او کرښه ولري:<br>- د خپل ورغوي په اندازه د کاغذ د ټوټو غوځول<br>- د شکلونو رسمول او ترلاندې يې نوم يې لیکل، لکه څرنګه چې په 'انځور' کې ښودل شوي. |
| **تر پوښښ لاندې راوستل کېدونکې برخې** | شکل او پیمایشونه |
| **هدفي مهارتونه** | بنسټیز شکلونه، لکه مربع، مستطیل، مثلث، دایره او نور په ګوته او تشریح کړئ |
| **جوړوونکی** | نشته |
| **اړین وخت** | ۱۰ دقیقې د چمتووالي لپاره<br>۱۵ دقیقې د لوبې ترسره کولو لپاره |
| **تېر اړین درس** | دا پوهه چې شکلونه څنګه ښکاري |
| **اړین ملاتړ** | د منځنۍ کچې ملاتړ |

**<u>د لوبې قواعد:</u>**

| | |
|---|---|
| **موخه** | په خپل بدن سره د شکل د جوړولو له لارې خپل ټیم سره د شکل په اټکلولو کې مرسته وکړئ |
| **قواعد** | هر لوبغاړی په نوبت سره په خپل بدن سره د شکل "تمثیل" ترسره کوي.<br>کله چې هغوی شکل "تمثیلوي"، لوبغاړي د خبرو کولو اجازه نه لري. لوبغاړي د یوه شکل د جوړولو لپاره خپلې ګوتې نه شي کارولای.<br>ټیم په خپلو کې بحث او په یوه پړاو کې یوازې یو اټکل کولای شي.<br>که چېرې د لوبغاړي ټیم په صحیح اټکل کولو کې پاتې راشي، نوبت بل ټیم ته رسېږي.<br><br>نومرې:<br>- د لومړي صحیح اټکل لپاره، ټیم ۲ نومرې اخلي<br>- د مرستې پر بنسټ د یوه صحیح اټکل لپاره، ټیم ۱ نومره اخلي<br>- د ناسمو اټکلونو لپاره هیڅ نومره نه ورکول کېږي<br>- که چېرې لوبغاړی د شکل د تمثیلولو پر مهال خبرې وکړي، ۱ نومره کمه کړئ. |
| **ګامونه** | لومړی ګام: د شکلونو کارتونه په منځ کې ایښودل کېږي او د لوبې تر هر پړاو وروسته خپلو کې ګډوډ کېږي<br><br>دویم ګام: لوبغاړي په ۲ مساوي ټیمونو کې ویشل کېږي<br><br>درېیم ګام: له لومړي ټیم څخه لومړی لوبغاړی یو کارت چې یو شکل ورباندې رسم شوی وي، پورته کوي<br><br>څلورم ګام: لوبغاړی به بیا هماغه شکل په خاموشۍ سره په خپل بدن تمثیلوي<br><br>پنځم ګام: لومړی ټیم به بحث کوي چې دا به کوم شکل وي او کله چې هغوی هوکړې ته ورسېږي،<br><br>په لوړ غږ سره خپل اټکل وايي<br><br>- که دا درست وي، لومړی ټیم ۲ نومرې اخلي او د دویم ټیم د تمثیل نوبت راځي<br>- که اټکل ناسم وي، دویم ټیم د هغه شکل په اړه د اټکل کولو چانس ترلاسه کوي چې لومړي لوبغاړي "تمثیلولو" – که هغوی سم اټکل وکړي، هغوی یوه نومره ترلاسه کوي – که هغوی (دویم ټیم) هم په صحیح بڼه د شکل په اټکلولو کې پاتې راغلل، هیڅ ټیم هم نومره نه ترلاسه کوي<br>- نومرې په یوه کاغذ باندې ثبت کړئ. |

| | |
|---|---|
| | اوم ګام: د شکل کارت له منځه ایستل کېږي او مخکې له دې چې د دویم ټیم یو لوبغاړی د "تمثیل" په موخه یو کارت راپورته کړي، د کارتونو قطی خوځول کېږي. له ۳ – ۵ ګامونه تکرار کړئ<br>Step 7: The shape card is discarded and the deck is shuffled before a player from team 2 picks up a card to “act” out. Repeat step 3 – 5<br><br>د بېلګې په ډول:<br>- د لومړي ټیم لومړی لوبغاړی د مثلث شکل درلودونکی کارت راپورته کوي<br>- لومړی لوبغاړی بیا په خاموشۍ سره دا مثلث په خپل بدن سره جوړوي (لکه څرنګه چې په عکس کې ښودل شوي)<br>- لومړی ټیم بحث او اټکل کوي چې دا یو مثلث دی او دوه نومرې اخلي. که لومړی ټیم ناسم اټکل وکړي، دویم ټیم به د یوې نومرې په بدل کې د اټکل کولو فرصت ترلاسه کړي. |
| **عکسونه یا انځورونه** | د مثلث او بعضې نورو شکلونو لپاره د بدن حرکت<br>*(په یاد ولرئ چې لوبغاړي د نورو حرکتونو په کارولو سره هم یو شکل تمثیلولای شي.)*<br><br><br>**ستوری** **مربع** **مثلث**<br><br>**د شکلونو کارتونه:**<br><br><br> |

| | |
|---|---|
| **د لوبې متفاوتې بڼې** | په ټیمونو کې د لوبېدو پر ځای، هر لوبغاړی کولای شي چې د اټکل کولو لپاره نورو ټولو لوبغاړو ته یو شکل تمثیل کړي. مشاهده کوونکی لوبغاړی، څوک چې دا شکل تر نورو وړاندې درست اټکل کړي، یوه نومره او هغه لوبغاړی چې دا شکل تمثیلوي هغه هم یوه نومره ترلاسه کوي – که هیڅ څوک هم اټکل و نه کړي، هیڅ څوک هم نومره نه ترلاسه کوي او د تمثیل نوبت بل لوبغاړي ته ورځي<br><br>د شکلونو کارتونه د انځورونو پرته د شکلونونه نومونه هم درلودلای شي. د تمثیلولو پرته، لوبغاړي کولای شي اړونده شکل رسم کړي او له نورو څخه یې د اټکلولو غوښتنه وکړي<br><br>د لوبې د لا جالبولو لپاره د وخت له نظره مقیدې ننګونې ولرئ. د بېلګې په ډول، هر ټیم ته به ۵ دقیقې ورکول کېږي او هغوی به څومره چې ممکن و هومره شکلونه اټکل کړي. هغه ټیم به ګټونکی وي کوم چې په ټاکلي وخت کې تر ټولو زیات اټکلونه وکړي. |
| **بډاینه** | ● لوبې ته نور شکلونه هم اضافه کړئ لکه الماس، د هګۍ شکل، هلال (سپوږمۍ)، او داسې نور<br>● ټیمونه د شکل په اړه د اټکل کولو وړاندې د بحث کولو اجازه نه لري.<br>● ټیمونه کولای شي خپل د شکل کارتونه جوړ او مخالف ټیم د شکلونو د تمثیل لپاره وهڅوي. له ۲ تر ۳ لوبغاړي کولای شي، شکل تمثیل کړي.<br>● ممثل ته یو شی ښکاره کړئ – هغوی باید په ټاکلي ۵ دقیقو کې ۲ بنسټیز شکلونه تمثیل کړي چې هغوی یې په اړونده شي کې ویني. د بېلګې په ډول، د پنسل قطۍ کې، مستطیلونه او مربعې هغه بنسټیز شکلونه دي چې عموماً مشاهده کېږي.<br>● لوبغاړي کولای شي یو امتیازي نومره هم وګټي که چېرې هغوی ټولې اخیستل شوې نومرې په سمه توګه جمعه کړي.<br>● The players can earn a bonus point if they add all the points they earned correctly. |
| **ساده کول** | د لوبغاړ جوړو ته د شکل کارت چې هغوی وربانديې بحث کوي، ورکول کېدای شي او بیا یې هغوی د نورو لوبغاړو لپاره د اټکل په موخه "تمثیلولای" شي، لکه څرنګه چې لاندینیو بېلګو کې ښودل شوي. ممثلینو ته په خپل وضعیت کې د سمون راوستلو لپاره ۲ دقیقې وخت ورکول کېدای شي او هر ټیم په هر نوبت کې د ۲ اټکلونو کولو اجازه لري.<br><br> |